# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


نشریه پیشرو شماره ۵۲
۲۴ جولای ۲۰۱۷

## استعمار، قومي او ژبني تضادونه رامنځته کوي!

قوم، ژبه، سيمه او ټاټوبی هغه وسايل دي چې په وروسته پاتي ټولنو کې ورڅخه په ډيره آسانه د واکمني طبقي يا استعماري ځواک لخوا ګټه اخيستل کيږي. د پورتنيو وسايلو تر څنګ مذهب هم د ولسونو د يووالي د له منځه وړلو لپاره بله آسانه وسيله ده چې د ښکيلاکګرو او يا واکمنانو لخوا کارول کيږي.

د نړۍ د تيرو څو لسيزو تير تاريخ په ډاګه کوي چې هرې سيمي يا هيواد ته چې استعماري ځواکونه رسيدلي او هغه هيوادونه يې په خپلي مستعمرې بدل کړي دي، په هغوی کې تر بل هر څه وړاندې د قوم، ژبې، سيمې، ټاټوبې او مذهب تر نامه لاندې شخړې او تربګنی پيدا شوې دي، ځکه وروسته پاتې ټولنې د قوم او ژبې تر نوم لاندې ډير ژر د يو بل پر وړاندې وسلې ته لاس وړي او په دې توګه د استعماري ځواکونو موخو ته لاره هواروي.

لږ تر لږه افغانستان او عراق د دې واقعيت څرګنده بيلګې دي. افغانستان او عراق دواړه هغه هيوادونه دي چې په کې ګڼ شمير قومونه اوسيږي او بيلابيلې ژبې لري او د دې تر څنګ په دواړو هيوادونو کې سني او شيعه مذهبونه تر نورو زيات لارويان لري. استعماري ځواکونو وکړای شول چې په دواړو هيوادونو کې په ډير مهارت او چالاکی سره د هغو قومونو، ژبو، سيمو او مذهبونو تر منځ د جګړو لمبي بلې کړي چې تر پرونه د يو بل تر څنګ په ډاډه زړه اوسيدل او له يو بل سره يې راشه درشه او هوسا ژوند درلود. عراق د همدې وسيلې ښکار شو؛ هيواد په قومي، ژبني او مذهبي جګړو کې په کنډوالي بدل شو او دغه لړۍ لا تر اوسه دوام لري، خو افغانستان له نيکه مرغه تر اوسه د دې جګړې ښکار شوی نه دی، خو په درشل کې يې دي.

په افغانستان کې ګڼ قومونه اوسيږي، هر يو يې خپله ژبه او کلتور لري او هر څوک د خپل مذهب او سيمي قدر کوي. دغه قومونه مخکي له دې چې روسان پر افغانستان تيری وکړي، له يو بل سره د خور او ورور په څير اوسيدل. نه چا د چا د قوم او ژبې سپکاوی کاوه او نه چا د چا مذهب او سيمي ته بد ويل، خو کله چې روسانو پر افغانستان تيری وکړ، حالات بدل شول. قوم، ژبه او سيمه د ولسونو تر منځ د تضاد او تفرقي د رامنځته کولو په موخه وکارول شول.
کابل ته د مجاهدينو په راتګ او وروسته د طالبانو د واکمنی پر مهال دغه تضادونه خپلي وروستۍ کچې ته ورسيدل. زرګونه هيوادوال د قوم، ژبې، سيمي او مذهب تر نامه لاندې ووژل شول او يا شکنجه شول. ښکيلو هيوادونو او ځانګړو کړيو په افغانستان کې خپلې ګټې په همدې تضادونو او اختلافونو کې موندلې دي.

د طالبانو د واکمنی له منځه تلل او په بن کې د نوي دولت جوړېدل یو وار بیا په افغانستان کې د قومي او ژبني تضادونو اور ته لمن وواهه. له هماغې لومړنۍ ورځې هر څه د ژبې او قوم پر بنسټ جوړ شول. په دې وروستیو کې د قومي او ژبني تضادونو لړۍ د هرې ورځې په تیرېدو سره شدت مومي، ځکه استعماري کړۍ نه غواړي چې افغانان یو موټی پاتې شي، له دې کبله له هرې وسیلې څخه کار اخلي څو د افغانانو په منځ کې چې د یووالي ډیر اوږد تاریخ لري، نفاق او شقاق رامنځته کړي. سره له دې چې په عام ډول ولسونه له یو بل سره هیڅ ستونزه نه لري، خو یو شمیر ځرګنده کړۍ او ډلې ټپلې هڅه کوي چې د بهرنیو په لمسون او پیسو د ژبې، قوم، سیمې او مذهب تر نامه لاندې خلک د یو بل په وړاندې ودروي، چې له نیکه مرغه تر اوسه په دې بریالي شوي نه دي چې د ولسونو تر منځ لوی واټن رامنځته کړي، خو له دې سره سره یې د کرکې او نفاق تخم شیندلی دی او دا د هرې ورځې په تیرېدو سره زیاتوالی مومي.

که چیرې د ژبني او قومي تضادونو او شخړو لړۍ په همدې ډول دوام ومومي، افغانستان به هم د عراق له برخلیک سره مخامخ شي او یو وار بیا به د نوي لسیزې په څیر د کابل په کوڅو کې وینې وبهیږي. استعمار خپله بقا او ګټه په همدې تضادونو کې وینې، له دې کبله د ټولو افغانانو او په ځانګړي ډول د روښن اندو دنده ده چې د ولسونو تر منځ وروروَلی، مینې او محبت ته پراختیا ورکړي، نه دا چې له یو بل سره متحد قومونه د یو بل پر دښمنانو بدل کړي. باید په ډیرې هوښیارۍ او جدیت سره د استعماري کړیو او د هغوی د لاسپوڅو نقشې او موخې خنثی او له منځه یوسو، که نه د عراق برخلیک به ډیر ژر زموږ هیواد یو وار بیا په کنډواله بدل کړي.